# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


داکتر م . عثمان تره کی

۰۸ جنوری ۲۰۱۳

## د سولې سرگردان کاروان، د قطر د پاتک په وړاندی

نړیوال نظامي ائتلاف (ن،ن، ا) تر هغه وخته پوری چه په افغانستان کی نظامی حضور لری لړ تر لږه د دري موضوعاتو په شاوخوآ کي ګډ دریځ لری:

ــ د یو لاسپوخي کمزوري واکمنی ملاتړ .

ــ د ژبني ، قومي او مذهبي نفاق پوتانسیل تازه ساتل .

ــ د مؤتلفو جنګسالارانو د عیش او نوش زمینه برابرول .

خو په وروستیو کلونو کی د (ن، ن، ا) د غړیو هیوادونو تر منځ د افغانستان د جګړې او سولې په اړوند مخکني اتفاق تر سوال لاندي راغلی دی. د جګړې د دوام پخواني انګیزي (د نیویارک چاودنه او ورسره په تړاو د تروریزم سره ګډه مبارزه) چه د لوید یځو هیوادونو تر منځ د ملګرتیا محور جوړوي، ځای سیاسي تکرونو ته سپارلي دي: اروپائیان د جګړې په ساحه کي د امریکا د تکبر او خپل سري نه سرټکوي. د مثال په توګه په فرانسه کي سیاسي حکومتي او غیر حکومتي مشرانو په وار وار ویلي چه د امریکا پوځ د وسله والو مخالفینو د مرو په وړاندې د جګړې د اخلاقي اصولو نه سرغړوي او کله ناکله په ډله ایزه وژنه لاس پوري کوي، خو د هغه تاوان زموږ په پوځ باندی تپل کیږي.

په یوه لسیزه جګړه کی د ناټو په مختلفو سر مشریزو غونډو کي، غړی هیوادونه له یوي خوآ د جګړې د دوام په یوي واحدي ستراتیژي باندی سره جوړ نشول . له بلي خوآ د سولي د یو واحد پلان په تنظیم کي پاتي راغلي دي.

اوس په واقعیت کي (ن، ن، ا) د جګړه مارو او د سولي پلویانو تر منځ ویشل شوې. په دغسي شرایطو کي چه د لمړي ډلي مشري امریکا په غاړه درلوده ځو لاملونه باعث شول چه لمړي آلمان او وروسته فرانسه د امریکا د جګړه ایز دریځ په وړاندې د غبرګون په بڼه د سولي نوښت په لاس کی واخلي :

ــ په اروپا کي اقتصادي بحران او ورسره د افغانستان د جګړې مخ په ډیریدو لګښت .

ــ په جګړه کي انسانی مخ په زیاتیدونکي تلفات.

ــ په عامه ذهنیت کي د جګړي نه د ملاتړ کموالی.

ــ دغه واقعیت چه یرغلګر د افغانانو د تاریخی مقاومت سره مخ دی نه د القاعده او نړیوال تروریزم سره.

جګړې سره مخالفت یو د هغو لاملونو څخه وو چه په فرانسه کي یی سوسیالیستان قدرت ته ورسول او سوسیالیست حکومت یي دیته اړکړ چه فرانسوي پوځ د تاکل شوي پروګرام نه مخکي د افغانستان نه وباسي.

اوسمهال په افغانستان کي د سولی د داعیي د تحقق په خاطر دوه فعال مرکزونه مطرح دی : قطر او پاریس. خو د بهرنیانو په لاس د جوړ شوي نظام سره مؤتلف جهادیستان د پاکستان د مذهبی کړیو په مرسته د سولی د یو «اسلامی»

مرکز د مطرح کولو په تمه عربستان خواته هم لنگر اچوی. دغه هلی ځلی د (ن ، ن ، ا) د سیمه ایزي ستراتیژي سره سمونوالي نلري نو ځکه يي کومه نتیجه هم نده ورکړي.

د آلمان او فرانسي د سیاسی کارپوهانو له نظره په قطر کي سوله د امریکا په وسیله یرغمل شویده . دواړه هیوادونه د نورو اروپایی هیوادونو په ضمني ملاتړ، پدې لټه کي دي چه د سولي کوترۍ د امریکا د جګړه مارو سیاسي، نظامي او شبه نظامي منګلو نه وژغوری. د همدغه منطق په بنسټ باندې په افغانستان کي د سولي په استقامت، پاریس د قطر د بدیل په توګه مطرح شو .

د پاریس محوریت د قطر د مرکزیت په پرتله ځو ځانګړتیاوي لري :

ـ فرانسه د افغانستان د جګړي یو اړخ نه جوړوي.

ـ د سولي د بل الترنتیف اړتیآ پدغسي حال او احوال کي چه د ا حتمال له مخي امریکا د قطر د دفتر نه د خبرو اترو تر پلمي لاندې د «طال چال» ، دفع الوقت تاکتیک په بنه ګټه پورته کړي او جګړي ته يي دوام ورکړي.

ـ د کابل اداره هلي ځلي کوي چه د قطر خبرې اترې دومره اغیزمني کړي چه مقاومت کابل اړخ سره مذاکراتو ته اړ شي . اوسني نظام، یعني دا د اشغال سیاسي محصول، رسمیت ومومی او جنګي ډلي ټپلي د سیاسي او حقوقي مصونیت په درلودلو سره خپل سیاسي ژوند ته دوام ورکړي.

د پاریس د سولي په پروسه کی، د کابل د حکومت د نفوذ احتمال کمیږي .

د کابل اداره د پاریس د سولي د پروسي د وراني په مقصد پدې لټه کي ده چه د پاکستان، سعودي عرب او قطر چارواکو سره په ګډه د وسله والو مخالفینو په وړاندې د سیاسي فشار یو محور جوړ کړې . جنګی ډلو کرزی ته دنده سپارلي چه په امریکا کي د خپل مسافرت په ترڅ کي، امریکايي اړخ ته د «خلیفه د کیسي» نه د سخاوتمندانه امتیازونو په ورکولو سره دیته وهڅوي ، چه د نوموړې محور په ملاتړ ودریږي. خو د لویدیځوالو عمومي سیمه ایز سیاست چه یوه برخه یي د امریکا په واسطه تمثیلیږي د دغی هلي ځلي په وړاندی مانع ګرځي .

په لنده توګه دا چه! که د سولي په وړاندې یاد شوې جنګي ائتلاف (کابل ، اسلام آباد، دوحه) عملی بنه غوره کړي ، د قطر د سولی پروسه هرومرو ناکامیدو سره مخ کیږی. دلته د پاریس د سولي پروسه په وروستي الزامي مرجع بدلیږي.

د پاریس وروستي غونډه د جنګ سالارانو (د مقاومت په استثناء) په ګډون د «ټکر ستراتیژي» په بنسټ باندې جوړه شوي وه . د «ټکر ستراتیژي» د ښکیلاک په تاریخ کی ژورې ریښي لري او ورځخه د افغانستان په جګړه کي د بوش د اداري د پیل نه تر اوسه پوري ، په مبالغه آمیزه توګه ګټه پورته شوي ده . له همدې کبله د پاریس په غونډه کی د افغانانو یا بهرنیانو په واسطه د سولي هیڅ یو پلان برخه والو ته وړاندی نشو . غونډي جګړه مارانو ته د سیاسي تشخص زمینه ورپه برخه کړه، خو مثبت اړخ یی دا وو چه ګډونوالو ته یي د نظر د تبادلي یو ښه چاپیریال برابر کړې وه.

د پاریس په غونډه کی د وسله والو مخالفینو وینا دا ثابته کړه چه وسله وال مقاومت په یوه «ملي ـ اسلامي ـ مدني» پیاوړې تحریک بدل شوې او کولاي شي چه د راتلونکي نوې نظام، چه د سولی محصول به وی، د سیاسي ثبات، امنیت او عدالت د ملا د تیر نقش ولوبوي . -« پای»

دوکتور م . عثمان تره کی

فرانسه- دجنوری ۵ ، ۲۰۱۳ م کال

***یادداشت:***

*شاید بتوان با تفسیر خاصی از اسلام، طالب را یک حرکت اسلامی نامید، مگردر قسمت ملی و مدنی بودن آنها، تنها دقت در کشتار بیگناهان یکاولنگ به وسیلهٔ طالب کافی است، تا به ماهیت ضد ملی و ضد مدنی آنها پی برد.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*